ژباړه: ولي


۱۲ دسمبر ۲۰۱۱

## ډیر ترویج او ډیر تبلیغ

## ای. میشتر

## د کمینترن له اسناد و څخه

## (لومړی برخه)

پانګوالي یوازې د خپلو بانکونو او تراستونو، د خپلو محکمو، قانون او پوځي قطعاتو او د مالي ځواک او حکومتي دستګاه له لارې خپله واکمنتیا نه ساتي. پانګوالي همدا ډول د دې واقعیت پر اساس حکومت کوي چې د تبلیغ او ترویج لپاره تقریباً نا محدوده وسایل او امکانات لري. ښوونه او تعلیم او روزنه، علم او هنر، کتابونه او ورځپاڼې، رادیو، سینما او تیاتر، دا ټول هره ورځ د واکمني طبقي عقاید د ولسي پرګنو په ذهنونو کې تزریقوي. دا ټول کوښښ کوي چې د ستم ځپلو زیارکښو زړونه او ذهنونه خپل لوری ته راوکاږي، منحرف یې کړي، تر برید لاندې یې ونیسي او تر خپلې ولکې لاندې یې راولي. فاشیستي دیکتاتوری دا تبلیغ تر نهایي درجې پورې تیز کړی دی. د دې دیکتاتوری ټول سازونه په همغږې توګه یو آواز غږوي او فاشیستي تبلیغي وزارتونه هم خپله بد آوازه موسیقي په اوچت غږ وهي.

زموږ ډیری ملګري په خطرناک ډول لیوالتیا لري چې د خپلو دښمنانو تبلیغ او ترویج ته کم ارزښت ورکړي. هغوی د تبلیغ او ترویج چارې ثانوي ګڼي او د دې موضوع د پوهیدو توان نلري چې په اوسني شرایطو کې دقیقاً دا موضوع ډیره شدیده او متمرکزه پاملرنه غواړي. دا د کمونیستي ګوندونو یوه ټاکونکی دنده ده چې په ورځني توګه د خپلو عقایدو په تبلیغ سره په نوي ډول د فاشیزم په وړاندې مقابلې ته ودرېږي، هغه فاشیزم چې د هر ډول ښکاره او پټې وسیلې په کارولو سره کوښښ کوي د ولسونو د ذهنونو مالک شي. تبلیغ او بیا هم تبلیغ، د ولسونو تر منځ زموږ د عقایدو د رسولو لپاره د هرې شونتیا کارونه او د دې لپاره چې په فاشیزم کړکه شوی فضا کې زموږ د نظراتو وړمه ولګیږي، د فاشیستانو او رفرمیستانو د استدلالونو سره زموږ مقابله د هر وخت په پرتله اوس د کمونیستي ګوندونو مهمه دنده جوړوي. د ځیوونکو فاشیستو او جګړه مارو په وړاندې د یوې بریالي مبارزې او د

رفرمیستانو د ویجاړونکو توهماتو په وړاندې د یوه بریالي برید لپاره، یوه ډیره مهمه مخکني اړتیا زموږ دتبلیغاتو کمی او کیفي رغاونه ده چې باید د زیاتو کتابونو، زیاتو جزوو، زیاتو ورځپاڼو، ښه کتابونو، ښه جزوو او د ښو ورځپاڼو د خپرولو له لارې تر سره شي.

## ترویج او تبلیغ باید څه منځپانګه ولري؟

شونی ده چې د دې پوښتنې بیا راپورته کول، هغه پوښتنه چې په کراتو ځواب شوی، بی ګټې ښکاره شي. خو له هغه ځایه چې په عمل کې زموږ ځینې ملګري تبلیغ او ترویج سره غلطوي او ځینې فکر کوي چې تبلیغ باید دا مهال څنډې ته کیږدو څو ترویج ته لاره خلاصه شي، نو دې پوښتنې ته د لنین ځواب یو ځل بیا رایادوو. لنین چې د پلخانف لخوا د وړاندې شوي تعریف په اړه خبرې کړي، داسې لیکي:

«مونږ (د پلخانف او د کارګرانو د نړیوال غورځنګ د ټولو رهبرانو سره) تر اوسه فکر کاوه، یو مروج چې مثلاً د وزګارتیا پر موضوع باندې خبرې کوي باید د کړکیچ پانګوالیزه منځپانګه توضیح کړي، په نننۍ ټولنه کې د کړکیچ حتمي رامنځته کیدنه وسپیړي او دا تشریح کړي چې نننۍ ټولنه باید څنګه په حتمي ډول په یوې سوسیالیستي ټولنې بدله شي او.... لنډه دا چې هغه باید «ډیری آیده ګانې» عرضه کړي؛ هومره ډیرې چې یوازې به نسبتاً لږ شمیر کسان وربانديې پوه شي. خو یو مبلغ چې د همغې موضوع په اړه خبرې کوي د توضیح لپاره داسې یو واقعیت انتخابوي چې د هغه مخاطبان په پراخه ډول هغه وپیژني او ورته متمایز وي. د ساري په توګه د ولږې له امله د یو وزګار کارګر د کورنۍ مرګ، زیاتیدونکی فقر او ... او د دې واقعیت په کارولو سره «پرګنو» ته یوازې د یوې ایدې د وړاندې کولو لپاره خپل ټول کوښښ کاروي، یعني د ثروت د زیاتیدني او د فقر د زیاتیدني تر منځ د احمقانه تضاد ایده. مبلغ به کوښښ وکړي د ولسونو تر منځ د دې ښکاره بی عدالتی په وړاندې د خلکو قهر او نارضایتي راوپاروي او د دې تضاد بشپړه توضیح به مروج ته پریږدي.

ترویج او تبلیغ باید د یو بل بشپړونکي وي. هیڅ یو نه باید د بل په بیه سپک وګڼل شي او نباید یو د بل پر ځای وکارو. که ځینې ملګري انګیري کله چې مونږ د خلکو دموکراتیکو آزادیو لپاره نیغ په نیغه تبلیغ کوو نو ضروري ده چې دا ترویج او تبلیغ د پرولتاریا د دیکتاتورۍ لپاره محدود کړو، دا ملګري په اشتباه کې دي (همدا ډول هغه کسان هم تیروتنه کوي چې فکر کوي بی له دې شعار څخه چې «ژوندی دی وی د پرولتاریا دیکتاتوري!» نشو کولای د مهمو غوښتنو لپاره تبلیغ وکړو). آیا د دې اړتیا لیدل کیږي چې د متحدې جبهې د جوړولو او د ولسونو د جبهې د سازماندهی او د ولسونو تر منځ د لارې پیدا کولو په موخه په خپلو تبلیغاتو کې له کمونیزم څخه یو څه کم وغږیږو؟ بر عکس، باید د کمونیزم په اړه ، د شوراګانو د قدرت په اړه او د خپلو اصولو په اړه لا زیاتې خبرې وکړو. خو یوازې په مناسبو شرایطو کې باید د ولسونو بلاواسطه تجربې، اړتیاوې او غوښتنې د خپل تبلیغ د پیل ټکی وګرځو او باید پوښتنو ته په رنټوب او ژوندي توګه بی له دې چې دا پوښتنې په اوږدو کړو وړو توضیحاتو او د تیوریکو پیچیلو موضوعګانو په راپورته کولو سره لا پیچیلی کړو، ځواب وواېو. خو په ورته وخت کې باید خپل سیاست توضیح کړو او د هغه دلایل روښانه کړو. د هغه راتلونکی باید انځور کړو او ښکاره کړو چې څرنګه دا سیاست د پرولتاریا د دیکتاتورۍ لپاره زموږ له مبارزې سره تړاو لري. په تبلیغي کار کې د پرګنو د ملموسو مسایلو، له هغه مسایلو څخه چې د چاودیدونکو توکو حکم لري او د ولسونو لخوا نیغ په نیغه د پوهیدنې وړ دي، کار اخلو؛ لکه د ولږې له امله د یو وزګار کارګر مړینه، د طبقاتي محکمې د مرګوني حکم په څیر مسایل او.... مونږ پر دې مسایلو ټینګار کوو په داسې حال کې چې عمداً له ډیرو نورو مسایلو څخه چې رسوایي یې کمه

ده، په سادګۍ تیریږو، خو په ورته وخت کې په خپل ترویج کې ښکاره کوو چې د ولړې له امله د یو وزګار کارګر مړینه او ورته پیښې په هیڅ ډول تصادفي نه دي، بلکې د پانګوالی یوه عارضه ده او د داسې پیښو د بی پایه تکرار مخه یوازې هغه وخت نیولی شو چې پانګوالي نابوده او سوسیالیزم آباد کړو.
مونږ باید د دې بد او بی معنی عادت څخه چې ټول شیان په یوه تبلیغي ویناپانه او مقالې کې ځای په ځای کړو او خپل ټول استدلالونه او غوښتنې په هغه کې کتار کړو، ډډه وکړو. مونږ د داسې ویناپاڼو او مقالو سره آشنایې لرو چې له پیله تر پایه له استدلالونو او غوښتونو ډکې دي خو د ولسونو د ویښولو او هڅونې په ځای په ډیر احتمال هغوی بیده کوي. په تبلیغي ویناپاڼو او مقالو کې مونږ ټول شیان پر یوه واحد اند متمرکزوو څو په تبلیغي کار کې خپل تز له هر اړخه وپالو. البته کیداې شي ولسونو ته ډیر مطالب ووایو، خو د یو مبلغ هنر دا دی چې وکړای شي په هره شیبه کې هغه څه ووایي چې له ټولو زیات اغیزناکه وي، یوازې هغه مطالب ووایي چې په هماغه شیبه کې وکړای شي بی له تفصیلي استدلال څخه ولسونه ولمسوي او راپایڅوي. زموږ د فرانسوي ملګرو دا شعار چې «شتمن اړ کړئ چې بیرته یې درکړي» په تبلیغ کې د مهارت ځلاندتیا ښکاره کوي. دا شعار د ورځې په شان ولسونو ته روښانه دی. هغه شعار چې تفصیلي او اوږدو توضیحاتو ته اړتیا ونلري د ولسونو په ذهن کې نفوذ کوي، د بشپړو استدلالونو پرته هغوی متقاعدوي، او دننه انګار یې په لمبو بدلوي.
خو مونږ تل په توضیحي کار کې اعلاموو چې اړتیا ده لا مخې ته لاړ شو او ووایو چې یوازې د پرولتاریا دیکتاتوري، یوازې شورایي ځواک کولای شوي د زیارکښانو اړتیاوې د تل لپاره پوره کړي او نیمګړتیاوو ته پای ورکړي. دا وخت پراخه ولسي پرګنې د دې ایدې په وړاندې شکمن یا ان منفي فکر لري او زموږ ترویج او تبلیغ به ورته د دې ایدې منل آسانه کړي. نو مونږ باید تل ترویج او تبلیغ د یو بل بشپړونکی کړو، په سمه د هغوی تر منځ اړیکه ټینګه کړو، دواړو ته تکامل ورکړو او بډایه یې کړو.